# اظهاریت: د هنر او ادب یو ځانګړے مکتب

# Expressionism: A Unique School of Art and Literature

Issn 2304-1463

Dr Asal Marjan (Muhib Wazir)
Assistant Professor
Bacha Khan University, Charsadda.

**Abstract:**
Expressionism tells us to say whatever comes to your minds without any hesitation. The mind what kind thinks or devises and makes what kinds of justifications or suggestions. If all theses cannot be expressed, then human intelligence or wisdom does not come forward and thus a void is born in human life. Because human being always make possible a developing history only through expressions.
In this article, a complete introduction to expressionism, its importance and its evolutionary journey has been shown.

------------------------

**Key words:** Expressionism - Intuition - Ethics - Concepts - Thoughts - Traditions - Art – Poetry – Literature.

-----------------------

فلسفې مدام هڅه کړې ده چې د انساني ژوند او ارزو سره تړلیو موضوعاتو او کړکېچونو ته د رسېدو لارېګودرې وګوري او د پوهېدنې د پاره پکښې اسانتیاوې رامخې ته کړي. په دغه لړ کښې یې یو شمېر مکتبونه یا نظریات زېږولي دي . په دغسې مکتبونو کښې یو مکتب د اظهاریت هم مونږ پېژنو چې د ټولنې او ټولنیز ژوند تر څنګ یې هنرونه هم متاثره کړي دي .
اظهاریت چې په انګرېزۍ کښې ورته د (Expressionism) اصطلاح کارول کېږي او اردو کښې د باطن نګارۍ په اصطلاح پېژندل کېږي چې د "باطن یا باطنیت" په ترڅ کښې د اظهاریت یو قسم له خپل پخپله وضاحت هم کوي. "نګار یا نګاري" څنګه چې د افسانه نګار ، ناول نګار او داسې نورو ټکیو سره د لاحقې په توګه کارول کېږي چې معنا یې تصویر یا تصویر جوړول ، نقش یا نقش راښکل ، ډول یا ډول کول ، محبوبه/محبوب یا محبوبیت (1) ده خو اصطلاحي معنو کښې تصویر جوړونکے، کرښې راښکونکے یا لیکونکے/ویونکے ترې اخستل مراد وي ، لکه افسانه

ویونکې/لیکونکې ، ناول ویونکې/لیکونکې ، اعني باطن ویونکې ، د باطن حال ښکاره کونکې ، خبره او راز ویونکې او داسې نورې.

اظهاریت/باطن نګاري اصل کښې خپله مدعا یا ذهن ته راغلې د هرې خبرې اظهار/وئیلو ته وایي. ذهن چېڅهڅه سوچونه کوي ، فکر چېڅومرهڅومره تدبیرونه ، جوازونه او تجویزونه تراشي ، دا هر څۀ که په اظهار کښې رانۀ وړلے شي نو انساني ژوند کښې یوه خلا رامخې ته کېدے شي. (2) دلته کښې اظهاریت د نفسیاتو سره هم خپلېځنډې وهي. تحلیل نفسي په دې خبره پوخ یقین ساتي چې د انساني وړتیا او پرمختیا د پاره اظهار ته ډېر اهمیت ترلاسه دے. (3) انسانیتولنه د انساني ذهن په بنستې مخ په وړاندې روانه ده. انساني ذهن چېڅومرهڅومره په کار اچول کېږي ، دومره دومره نوي نوي سوچونه ، فکرونه او تصورات مخې ته راځي او د هغې په اساس فلسفه ، سائنس او نور علوم پرمختګونه کوي چې هر دم او ګهړۍ زمونږ دا نړۍ ورسره بدلېږي او نوې کېږي. دا د اظهار ضرورت دے چې د اظهاریت په نوم یو باقاعده فلسفیانه مکتب فکر یې رامنځ ته کړے دے چې د انساني ذهن خیالات او تصورات په هر حال کښې خوندي کول دي چې د اظهار نه کولو په وجه د انسان (فرد) سره سره د هغۀ په ذهن کښېنوےسوچ/تصور هم له مینځه لاړنۀ شي.(4). دا نوے سوچ/تصور هله د یو انسان په ذهن کښې پیدا کېږي چې د جذباتو او احساساتو پوره پوره ادراک وکړے شي ، ځکه په اظهاریت کښې دغو شیانو (جذبات او احساسات) ته خاص اهمیت ورکړے شوے دے. دغه جذبات او احساسات انساني تخیل رالړزوي او دا تخیل وي چې د اظهار د پاره د لارې تلاش کوي. (5).

اظهاریت د علم د یوې داسې وسیلې سره اړونده دے چې د معروضیت په ځاے د موضوعیت سره پېوست وي او سرچینه یې د عقل په ځاے وجدان ګڼلے شي. د وجدان پحقله فلسفیانه توضیح تر ټولو زیاته بېنډېټو کروچې (Benedetto Croce, 1866- 1952) کړې ده چې د جمالیاتي تنقید پاره یې دا (وجدان) مهم ماخذ بللے دے. هغوي په نولس سوه کښې په اظهاریت درې خطبې (لېکچرونه) ورکړې دي چې هم دغه خطبې وروستو په نولس سوه دوه (1902) کښې د "جمالیات" په نوم شایع شوې دي. په دغه خطبو کښې یې د علم د وجداني وسیلې او د هغې د اظهار په اړه خپل نظر په ډېر وضاحت سره وړاندې کړے دے. د دوي په خیال د علم د پاره که یو خوا ضمیر (یقیني ضمیر چې د ښۀ او بد پوخ تصور وي ، شکمن ضمیر چې د ښۀ او بد په تصور کښې انسان شکمن کوي او کمزورے ضمیر چې د ښۀ او بد هډو تفریق پکښې ختم شي ) د پاره وجدان خام مال تیاروي نو بل خوا منطق او ادراک د شعور او عقل رغونه او پرمختګ روان

ساتي. د اولني د پاره تخيل کار کوي او د دويم د پاره تعقل په کار بوخت وي. وجدان په اصل کښې يوه حسياتي جذبه وي او دا تکميل ته هله رسي چې کله يې اظهار وشي. د اظهار تجسيمي صورت هم د وجدان فريضه ده او که داسې ونۀ شي نو دا به داسې وي لکه د کوم جذباتي تاثر لاندې د څناورو تړوپونه (6) خو د انساني وجدان نه راپورته شوې حسياتي جذبې نه په ظهور کښې راغلې نڅا نه شي کېدے يا کومه بله فنپاره نه شي کېدے. دغه وجداني علم چې سرچينه يې تخيل دے ، څخه محاکات (Imagery) جوړېږي چې د شيانو سره يې تړون (نسبت) پيدا کېږي او د هغو د علم (پېژندنې) سوب ګرځېږي. دغه محاکات (پيکريں) چې مونږيې د اظهار په وسيله پېژنو. د کروچې دا خيال دے چې اظهار هم په اصل کښې وجدان دے ، په دغه ترځ کښې که زمونږ په مطالعه کښې هغه اعتراضات هم شته چې د کروچې په دغه خيال مخې ته راغلي دي (وګورئ ، د کروچې په دې خبره چې اظهار هم وجدان دے )،(7) ولې بيا هم زمونږ دا خيال دے چې د کروچېدا خبره ډېره بېځايه هم نه ده چې د اظهار نه بغېر د وجدان هډو ادراک نۀ کېږي. مونږ دلته د ادراک ټکے وکارلو چې په بنيادي توګه عقل سره نسبت لري او ذهن د وجدان ادراک هله کوي چې اظهار يې وۀ شي. مونږ وړاندې د معروضيت او موضوعيت په ترځ کښې هم دا ذکروکړو چې وجدان موضوعي شے دے ، اعني معروض خو د يو چا د اظهار نه بغېر هم انساني عقل ادراک کولے شي خو موضوع چې ترڅو اظهار نۀ شي ، تر هغې يې ادراک نۀ شي کېدے. د وجدان (Intuition) يوه بله معنا د فطري قابليت يا طاقت چې يو څيز يا يوه دعوا بغېر د کوم ثبوت نه د قبوليت درجې ته رسولے شي. يو داسې احساس چې د انسان داسې لارښودنه وکړي چې د هغې د پاره ورته د بل کوم ثبوت اړتيا محسوسه نۀ شي (8).

د هنري برګسان (Henri Bergson 1859-1942) نوم هم د اظهاريت په لړ کښې مخې ته راځي چې هغوي هم د علم د ادراک يوه مهمه سرچينه وجدان ګڼي. دا يوه داسې وسيله ګڼي چې سائنس او فلسفه ورباندې زيات باور خو نۀ کوي ولې چې د دغه علم کومه بهرنۍ (معروضي) تجربه موجوده نۀ وي خو نفسيات دانو په دغه اړه خپل تحقيقات روان ساتلي دي او دا قسمه حسي تجربات د نفسياتو د علم په رڼا کښې اولين ګڼل شي (9).د برګسان په خيال کوم حقيقتونه چې د وجدان له لارې پېژندل کېږي ، د هغې انساني ذهن ته مطلق يا کامل علم ځکه ترلاسه کېږي چې دلته حقيقت براه راست د ويونکي يا تجربه کونکي سره ګويان وي، اعني د عالم او معلوم په مينځ کښې کوم واټن (فاصله) موجود نۀ وي (10) دارنګې د وجدان يو عام تصور د عقليت پسندو په علمي روايت کښې هم موجود پاتې شوے دے او د "سمدستي اندېښنه" ، "دانشورانه

بصارت" "ناګهانه رڼايي" په نومونو يې نومولې دې او د مذهبي دانشورانو په نزد ورته "الهام" وئيلي شوي دي.
په وجدان د دومره ډېر بحث نه دا خو ښکاره شوه چې د اظهاريت بنيادي منبع هم دغه ده چې کروچې او برګسان يې توضيحات کړي دي . برګسان يو بل ځاے کښې اظهاريت د وجداني حقيقت يا علم سره داسې تړي چې کله هغه د نوي فن او ادب په ترڅ کښې د فني اضطراب خبره کوي او مراد ترې د وجدانيتجربو او احساساتو هره ورځنے نوے والے اخلي نو بيا يې د قديم نه تش د درجه بندۍ په لحاظ بدل نۀ بولي ، بلکې د صورت (شکل/هيئت) په لحاظ يې هم بدل ګڼي چې د لمحې لمحې متغير حقيقت يو عجيبه "اظهار" ورته وايي (11) او په حقيقت کښې هم د برګسان د دغه اظهار نه د اظهاريت تحريک ماخوذ دے.
اظهاريت لکه څنګه چې د نوم نه يېښکاره ده ، د اظهار د تمامو وسيلو د کارونې پامته دار يو تحريک دے چې زياته توجو يې په وجدانيت اړانه ده چې وړاندې مو ورباندې تفصيل بيان کړے دے. دا د اظهار په وړاندې د هيڅ قسمه قيودو او اصولو زنځيرونه نۀ مني. دا د تاثريت (Impressionism)چې د خارج نه د انتها ترحده متاثر دے، په ځاے د تخيل (داخل) هر پيکر په خلاص مټ بيانول خپله وظيفه بولي. خو ادب کښې اظهاريت د ماديت پسندۍ ، مطمئين بورژوازي ، د ژوند ميکانکيت او د وړومبي نړيوال جنګ نه وړاندې په اروپايي ټولنه د خانداني نظام ټينګښت په خلاف د يو ردعمل په توګه مخې ته راغلے دے (12) چې اول اول په انځورګرۍ او بيا شاعرۍ کښې مخې ته راغے او بيا يې د ادب هر يو صنف کښې خپلې نخښې پرېښودلې. د شلمې پېړۍ په سر کښې د شمالي يورپ نه شروع شۀ چې د وړومبي نړيوال جنګ نه پس ډېر په تېزۍ سره خور شۀ. انځورګرۍ کښېډچ انځورګر ونسنټ وان ګوګ (Vincent Van Gogh 1853-1890)د اظهاريت پلار ګڼل کېږي. په شاعرانو کښې جورج هيم (Georg Heym ) ، ارنسټ سټېډلر (Ernst Stadler) ، اګسټ سټرام (August Stramm) ، ګاټفرېډ بېن (Gottfried Benn ) ، جورج ټرېکل (Georg Trakl) او نور اهم کسانګڼل کېږي.
دټولنيز احتجاج په ترڅ کښې مصورانو ، ډرامه نګارانو ، شاعرانو او اديبانو خپل خيالات په يو نوي انداز د وړاندې کولو او رسولو طريقه خپله کړه. دوي د ځانګړو حالاتو په ځاے عادي رښتينوالۍ ته توجو ورکړه ، دوي په خپلو فنپارو کښې د بشپړه ترقي يافته يا يو لوړ مقام ته رسېدلي کردارونو يا حقيقتونو په ځاے داسې کردارونه يا حقيقتونه راوړاندې کول اهم وګڼل چې زياتره به انځورګرو يا ليکونکيو د ذاتي نوعيت په ترڅ کښې غېر اهم ګڼل. د بهرنۍ (خارج)

ښکلا یا بدرنګۍ په ځاے یې د اندروني (داخل) جذباتو ښایست ، ارفعیت او معصومیت یا د اندروني (داخل) بدرنګي او بدبویي د خارج په وړاندې د یو ناوئیلي او نامنل شوي حقیقت په صورت کښې کښېښوه. دا هغه ناوئیلي یا نامنلي حقیقتونه دي چې نړۍ یې د وجداني علم سرچینېګڼي(13) .

د اظهاریت مقاصد یا منشوري نکات د سید عبدالله د وېنا په تناظر کښې په لاندیني انداز کښې وړاندې کولے شو:

- اظهاریت ګڼي چې تخیل (د وجدان سرچینه) مکمل ازاد دے او دا کائنات او کائنات کښې د موجودو شیانو او تصوراتو په اړه په خپل هر قسم پرواز کښې هم ازاد دے او د تخیل دغه ازادي اظهار ته احتیاج هم لري.
- اظهاریت د کامل داخلیت قایل دے. اعني د موضوعیت بشپړه تکامل هله امکان لري چې کله د دې اظهار کېږي. په نورو ټکیو کښې اظهار د شخصیت کتهارسس وي ، که دا کتهارسس نۀ کېږي نو د شخصیت (موضوعیت/وجدان) تکامل نۀ کېږي.
- اظهاریت پسند هنرمندان په روایت شکنۍ او بت شکنۍ کښې انتها خوښ لیدل شوي دي. دوي د ترقي پسندو په شان روایت پسند (ترقي پسند هم روایت پرست نۀ دي) نۀ دي ، بلکې روایت شکن دي. په دغه لړ کښې دوي د منفي او مثبتو روایتونو تفریق باندې هم یقین نۀ ساتي. په دغه لړ کښې دوي په ټولنیز ژوند کښې د کوم کړکېچ رامینځ ته کېدو خیال هم نۀ ساتي.
- جنسي ستونزې بیانول د اظهاریت پسندو هنرمندانو په زړۀ پورې موضوع ځکهګرځېدلې ده چې هم دغه موضوع باندې د ټولنیزو اخلاقیاتو په نوم خاورې انبار شوې دي. دغه موضوع هم زیاتره د ذاتي حسیاتي تجربو په اساس ښودلو طریقه غوره ګڼي.
- د ټولنیزو یا مذهبي اخلاقیاتو په نوم کوم شے د خپل اظهار په لاره کښې خنډ منلو ته تیار نۀ دي. د دغه قسمه اصولو/قاعدو د پاره د احترام په ځاے اظهار ته اولیت ورکوي.
- اظهاریت خوښونکي د هېڅ شي انځور نۀ سازوي ، دوي فقط د هغو تخیلاتو انځورګري کوي کوم څۀ چې دوي ته په کوم رنګ کښېښکاري.

- د اظهاریت خوښونکیو لیکونکیو په وړاندې ابلاغ کومه ستونزه نهٔ ده. ابلاغ دوي د لوستونکي ستونزه ګڼي ، دوي ګڼي چې د مصنفینو مسئله خو اظهار ده او اظهار کافي ګڼي. (14)

دا هغه نکات دي چې دغه تحریک وربانديې ولاړ دے. د دغه نکاتو په رڼا کښې ځینې پوهان اظهاریت خوښي مصنفین د جمالیاتي مصنفینو په څنګ هم ولاړ بولي ، اعني د دوي ټول زور تش د اظهار په ښایست وي ، نهٔ چې د اظهار په ټولنیز پېغام.

د اظهاریت یوه موخه دا هم ده چې هنرمند (فنکار) د خپل هنرمندانه عمل تکمیل غواړي. د هنر مند تخلیقي عمل ته تر هغې اطمینان نهٔ ترلاسه کېږي چې څو یو داسې تخلیق مینځ ته رانهٔ وړي چې په هره حواله د نورو د تخلیقاتو نه بدل وي. هر کله چې یو هنرمند داسې کوي نو د هغه به ارو مرو خپلو ذاتي جذباتو او احساساتو ته لوړتیا (اهمیت) ورکوي. دا جذبات او احساسات که د چا د پاره د قبولیت وړ وي یا نهٔ ، د چا د پاره د خوند او مسرت یا د چا د پاره د غم او درد سوب ولې نهٔ وي ، د ټولنې د پرمختیا سوب ګرځي یا د تنزل ، یو اظهاریت خوښ هنرمند د دغو نتایجو سره هېڅ سروکار نهٔ لري.

-----------+++++++------------

## حوالې:


1. قلندرمومند/فریدصحرایي،دریاب،پېښور،اپنډبلیوایفپېښبرپښتونخواټېکسټبکبورډ،۱۹۹۴، مخ:□□□□
2. کمال، محمد اشرف، ڈاکٹر، تنقیدی نظریات اور اصطلاحات، اسلام آباد، نیشنل بک فاؤنڈیشن، ۲۰۱۹، ص::۱۶۸
3. فیض احمد فیض (مرتب)، نثر تاثیر، بہاولپور، اردواکادمی، ۱۹۶۴,ص:۴۱
4. تنقیدی نظریات اور اصطلاحات، ص:۱۶۹
5. تنقیدی نظریات اور اصطلاحات، ص:۱۶۹
6. ڈاکٹر ستیہ پال آنند، کروچے---ایک مختصر تعارف، کراچی، اردو سائنس بورد، ۱۹۹۶، ص:۱۸۶
7. عصمت جاوید، کروچے، مشمولہتنقید کی جمالیات (جلد ۳)، مرتب: پروفیسر عتیق اللہ، لاہور، فکشنہاؤس، ۲۰۱۸، صص: ۲۸۲-۲۹۰
8. https://www.brittannica.com-intuition-11/02/2023
9. (G E. Morre, Principle Ethica, Cambridge University Press, 1960, pp:36)(G E. Morre, Principle Ethica, Cambridge University Press, 1960, pp:36)
10. عبدالقادر، قاضی، ڈاکٹر، برگساںاوروجدانیت، اسلام آباد، مقتدرہقومی زبان، ۲۰۰۹، ص:۱۲
11. برگساںاوروجدانیت، ص:۲۶
12. https://www.brittannica.com-expressionism -11/02/2023
13. https://www.brittannica.com-intuition-11/02/2023
14. عبداللہ، سید، ڈاکٹر، اشاراتتنقید، لاہور، مکتبہخیابان ادب، ص ص:۲۸۲-۸۳